# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## سریزه

دا کتاب د ښوونکي له دری، پښتو او ریاضی د مؤخذ کتابونو د سلسلی څخه یو کتاب دی کوم چې په ۱۹۹۹ کال د تجربه کارو افغانی تعلیم یافته پوهانو د یوی ډلی پواسطه ترتیب شوی تر څو له ښوونکو سره د لازمی قابلیتونو په زده کړه او پوهه کې مرسته وکړي کوم چې د لومړنیو تعلیماتو پروګرام په تدریس کې ضروری دي. دا مواد د ډول ډول موادي منابعو په اساس په خاص ډول د موجوده افغانی لومړنیو درسی کتابونو څخه ترتیب شوی دي.

دا انکشافی کتابونه په لاندې ډول ترتیب شوی دي.

- پدی برخه کی شپږ کتابونه (د اول تر شپږم ټولګی پوری) موجود دي چې هر یو یې د یو ټولګی لپاره دی.
- هر کتاب یې د ژبی د قابلیتونو په یو لست مشتمل دي چی دا قابلیتونه د مربوط ټولګی د سویې ښکارندوی دی، او ښوونکی سره په دی هکله مرسته کوی چې کوم لازمی قابلیتونه باید تدریس شي.
- د لومړی ټولګی لپاره قابلیتونه عبارت دي له د لوستلو آمادګی، د مهارتونو زده کول، او د لیکلو مهارتونه (انشأ).
- دوهم نه تر شپږم ټولګي پوري قابلیتونه عبارت دي له:

اوریدل او لوستل، لغات، د مفاهیمو درک کول، گرامری جوړښتونه، املأ او انشأ.

- د پنځم او شپږم ټولګیو لپاره د مطالعې مهارتونه اضافه شویدي.

په لست کې ذکر شوو قابلیتونو هر یو په خاصو لسانی مهارتونو تقسیم شوی دي تر څو چې د ماشومانو مختلفو سویو انکشاف ته ځواب ووایي. د ښوونکی سره په پوهه کې مرسته کوی چې کوم مشخص لسانی انکشافی مهارتونه ضروری دي چې باید په هر ټولګی کې وښودل شي.

د هر ټولګی کتاب د هغه لسانی انکشافی مهارتونو مثالونه وړاندی کوي چې سرته رسول یې په یو خاص ټولګی کې ضروری دي.

- دا مثالونه په لومړی ټولګی کښې د تورو، کلمو او لندو متنونو په باره کې دي.

- د دوهم ټولګی څخه تر شپږم ټولګیو پوری مثالونه په لاندی ډول ترتیب شوی دي:

**د مفاهیمو درک:**

کم لوسته متنونه د مفاهیمو د درک د سوالونو سره چې د اوریدلو او لوستلو مهارتونه د مفاهیمو د درک په اړوند وازمایي.

**گرامری جوړښتونه:**

گرامری جوړښتونه د تمرینونو هغه مثالونه وړاندی کوي چې تدریس یې د هر ټولګی په سویه ضروری دی.

**املا ء:**

د املا ء د خاصو مقرراتو او قوانینو هغه مثالونه وړاندی کوی چې په تدریج سره مغلق او مشکل کیږي.

**انشأ:**

– د لیک د تمرینونو مثالونه وړاندی کوې چې په تدریج سره مغلق او مشکل کیږی.

دا مثالونه ښوونکي سره په لاندی ډول مرسته کوي:

– دا امر یقینی کوی چی ټول ښوونکی مربوط مهارت په یو ډول استعمالوی .

– ښوونکي کولای شی چی دا مثالونه د دی لپاره چی آیا زده کوونکي مربوط مهارت زده کړی ده یا نه؟ استعمال کړی.

– ښوونکی کولای شی چی د دغه مثالونه په شان نور تمرینونه زده کوونکی لپاره جوړ کړی.

دا مؤخذ کتابونه نه یوازی د ښوونکو د استعمال له پاره دی بلکه د ښوونکو روزونکی هم ورڅخه استفاده کولای شی. چی د دې کتابونه

څخه د زده کوونکی د پوهی د آزموینی د پاره هم کار واخلی تر څو
چې د زده کوونکی مهارتونو ته انکشاف ورکړای شي.
ښوونکی کوولای شي چه اضافی مثالونه د تمرینونه له مخی جوړ کړی.

مفتیش (سوپروایزر) د دی لپاره مثالونه استعمالولای شی، چې معلوم کړی ماشومان په لسان کی لازمی قابلیتونه زده کړی دی یا نه؟
ترتیب کوونکی پدی هیله دی چی ټول افغانی ښوونکی به ذکر شوی مواد (کتابونه) له ماشومانو سره د کار کولو په برخه کی مفید او ګټور ومومی.

## دا کتابونه د لاندیني موسسو په ګډون ترتیب شوی دي:

| | | |
|---|---|---|
| OI/HEP | Ockenden International<br>Hangu Education Program | د هنګو د ښوونې او روزنې پروګرام |
| UNCHS/ Habitat | United Nation Center for Afghanistan | هبیتات |
| IRC | International Rescue Committee | د ژغورنې نړیواله کمیته |
| SCA | Swedish Committee for Afghanistan | د سویډن کمیته د افغانیستان دپاره |
| SAB | Solidarite Afghanistan Belgium | د بلجیم سره د همبستګی اداره |
| GTZ-BEFARE | Basic Education for Afghan Refugees | د افغان د مهاجرو لپاره اساسی زده کړی |
| AIL | Afghan Institute of Learning | د افغان آموزشی انیستیتوت |
| CARE | Cooperative Assistance Relief Everywhere | پاملرنه |
| PSD | Partners for Social Development | د اجتماعی ترقی همکاران |
| SCF-US | Save the Children Federation - US | د ماشومانو د حمایې موسسه |
| NAC | Norwegian Afghanistan Committee | ناروی کمیته د افغانستان له پاره |
| ECAR | Education Committee for Afghan Refugees | د افغان مهاجرینو د ښوونې او روزنې کمیته |

| | | |
|---|---|---|
| AMNA | Creation of the Pilot Schools in Afghanistan | د نمونه يي ښوونځيو تشکيل په افغانستان کې |
| HCI | Human Concern International | د بشری مرستو بين المللی موسسه |
| Unicef | United Nation Children Fund | يونيسف |
| CCA | Cooperation Center for Afghanistan | متا |
| ASC | Afghanistan Study Center | د افغانستان د مطالعاتو مرکز |
| ISRA | Islamic Relief Agency | د اسرا اسلامی خيريه موسسه |
| | Afghan Teachers and Schools Union in Quetta | د کويټه د افغانی ښونځيو او معلمينو اتحاديه |

## د پښتو د زده کړې اساسي قابلیتونه
## شپږم ټولګی

**د اوریدلو او لوستلو مهارتونه:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د پښتو د خاصو آوازونو مشخصات وپیژني او استعمال یې کړئ.

**لغات:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د یو متن څخه لغات په مختلفو متنونو کې استعمال کړي.
- د متن څخه د لغاتو استعمال ته د هغوی د مشابه او متضادو په استعمال سره وسعت ورکړي.

**د مفاهیمو درک:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- اساسي مطلب تشخیص وکړي.
- تفصیلات تشخیص کړي.
- د متن شخصیتونه تجزیه او تحلیل کړي.
- د خصوصي صفاتو د څرنګوالي په باره کې قضاوت وکړي.
- د متن مختلف انجامونه تشریح او ترتیب کړي.

**د مطالعې مهارتونه:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د معلوماتو د راغونډولو او تصدیقولو په خاطر د منابعو څخه استفاده وکړي.
- د لغت نامې څخه استفاده وکړي.

**گرامري جوړښتونه:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- هغه جملې چه فاعلي او مفعولي اسمونه لري په مذکر او مونث تبدیل کړئ.
- د افعالو لرونکي جملې په حال، ماضي او راتلونکي زمانو کي مونث او مذکر سره په مفرد او جمع اشکالو تبدیلي کړي.
- اضافي توري په درسته توگه استعمال کړي.

**املا *:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- با قاعده او بی قاعدي کلمات په درسته توگه ولیکئ.

**انشأ:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- کیسه په یو متن کي خلاصه کړئ.
- د لارښودو سوالونو په استفادی سره په یو موضوع باندی دوه یا دری پرگرافه ولیکئ.
- د کلیدی کلماتو په رهنمایي سره په یوه موضوع باندی دوه یا دری پرگرافه ولیکئ.
- د یوی طرحي په رهنمايي سره په یوه موضوع باندی دوه یا دری پرگرافه ولیکئ.

## شپږم ټولګي

## پښتو

## لوستل او په مفاهیمو پوهېدل

### ځنګلونه

افغانستان یو غرنی هیواد دی؛ د خاورې درې برخې یې غرونه دي ؛ خو دا غرونه زیاتره لغړ دي. یوازې د پکتیا ، پکتیکا ، ننګرهار ، کونړ او لغمان ځینو غرونو ځنګلونه لرل.

زموږ د هیواد په مرکزي ، جنوب غربي ، شمالي او شمال غربي برخو کې ځینې غرونه ځنګلونه هم لري، خو دا ځنګلونه له یوې خوا ډېر نه دي او له بلې خوا یې له لرګیو څخه له سونګ پرته بله استفاده نه کیږي. د افغانستان د بادغیس او سمنګانو په ولایتونو کې د پستې ځنګلونه هم شته.

لاندې خالي ځایونه د پورتنې متن له مخې په مناسبو کلمو ډک کړئ.

د افغانستان ______ برخې غرونه دي.

زموږ د هیواد ____ ، ____ ، ____، ____، ____ ولایتونه ځنګلونه لري.

د پستې ځنګلونه په _____، _____ ولایتونو کې دي.

د لغړ د لغت سمه معنی له لاندې کلمو څخه انتخاب کړئ.

| |
|---|
| -- سپین -- بوڅ -- بربنډ -- پټ |

# ځنګلونه

د افغانستان د ختيزو او جنوب ختيزو برخو لکه: لغمان ، کنړ ، ننګرهار، پکتيا ، خوست او پکتيکا له ځنګلونو څخه، د سونګې پر لرګيو سربيره ، صنعتي لرګي هم لاس ته راځي.

له صنعتي لرګيو څخه د ودانيو ، ميزونو ، چوکيو او د کورونو د ځينو سامانونو په جوړولو کې کار اخيستل کيږي . د دې سيمو په ځنګلونو کې د جنغوزيو، څېړيو، ممانيو، نانګو، ګورګورو او شنو ونې هم شته. چې پر لرګيو سربيره يې، له ميوو څخه هم ګټه اخستل کيږي. د پستې له ځنګلونو څخه په زرګونو ټنه پسته لاس ته راځي، چې زياته برخه يې خارجي هېوادو ته لېږل کيږي.

له لاندې نومونو څخه يې وټاکئ .

انګور ، منې ، جنغوزې، شفتالو ، پسته ، زردالو، پرګي، ممانی، شنې ، نانګه

– د افغانستان په ځنګلونو کې کومې ميوې پيدا کيږي ؟

______، ______، ______، ______، ______، ______

# ځنګلونه

د ځنګلونو د وهلو له امله نه یوازې غرونه لغړ شوي دي ، بلکې ځنګلي مرغان او ژوي هم له منځه تللي دي.

د ځنګلي ژویو او مرغانو له منځه تلل، زموږ پر چاپیریال باندې ناوړې اغیزې لري. ځنګلونه چې ووهل شي، د وچکالۍ خطر زیاتیږي او بارانونه په خپل وخت نه اوري. که باران واوري، سملاسي په سترو سیلاوونو بدلیږي، کلي او کروندې له منځه وړي. دا ځکه چې که ځنګلونه ووهل شي ، خاوره پسته شي. د ونو او بوټو ریښې نه وي چې اوبه وزغمي، نو که لږ باران هم واوري، سیلاو ترې جوړ شي.

ځنګلي ژوي او مرغان هم زموږ د اوسیدو پر چاپیریال اغېزه لري. نشتوالی یې توازن له منځه وړي او د اوسیدو چاپېریال ته ضرر رسیږي. ځنګلي مرغان مضرې حشرې خوري. ځینې ماران مږې له منځه وړي. په دې توګه محیط له مضرو حشرو او مږو څخه ژغورل کیږي.

که ځنګلونه ووهل شي په چاپیریال باندې لاندې اغېزې پرېوزي.

-- هوا پاکیږي
-- وچکالي راځي
-- سیلاوونه زیاتیږي
-- ځنګلي مرغان او حیوانات ډیریږي.

# شپږم ټولګي

# پښتو

## ګرامري جوړښتونه

لاندې د مفرد او جمع کلمو دوه لړۍ راغلې دي، د مفردو کلمو مخ ته جمع او د جمع کلمو مخ ته مفردې کلمې ولیکئ؟

| مفرد | جمع | جمع | مفرد |
|---|---|---|---|
| سړی | | اسان | |
| وزه | | بیزوګان | |
| مېږه | | ماماګان | |
| غړی | | سنډاګان | |
| ښوونکی | | کوچیان | |
| مور | | نیکونه | |
| خور | | پلرونه | |
| ترور | | پرانګان | |
| زړه | | لیوان | |
| کتاب | | زمري یا زمریان | |
| مېز | | | |

لاندي ښېلاښېل مصدرونه درکړ شوي دي. تاسې بې د لاندېنيو جملو په تشو ځايونو کې وليکئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| خوړل | چښل | تلل | غوښتل | ژړل | خندل | ليکل |
| ليدل | رټل | نڅل | زنګل | تړل | وهل | څښل |
| | | اوريدل | ښوول | روزل | | |

زمرک او هيلۍ پرون جلال آباد ته ـــــــ خو لاړ نه شول.

د درس په وخت کې ـــــــــ ښه کار نه دی.

احمد او زرغونې ـــــــــ خپلې زده کړې بشپړې کړې ، خوستونزو پرينښودل.

د ماشومانو ـــــــــ د دوی پر روزنه ناوړه اغېزه لري.

په اندازه ډوډۍ ـــــــــ سړی نه ناروغه کوي.

زرک او ملالۍ خپلو کورونو ته ليکونه -------- چې له کوره ورته حال راغی.

د رحمان بابا د شعرونو ـــــــــ ما خوشحالوي.

د پاکو اوبو ـــــــــ سړی له ناروغيو ژغوري.

د ښوزلو ـــــــــ ښه کار نه دی.

د کوچنيانو ـــــــ د ميندو او پلرونو اساسي وظېفه ده.

شاګردانو ته د سمې لارې ـــــــــد ښوونکيو کار دی.

پرون د اختر د دريمې مېله وه، د کلي نجونو او هلکانو په تالونو کې ـــــــ.

کوچينانو سهار د وخته خپل بارونه ـــــــــ چې ناڅاپه باران پيل شو.

له کښتونو د څارويو ـــــــ ښه کار دی.

مور ــــــ چې د بريالي دوی کډه له کلي بار شوه او جلال آباد ته لاړل.

اتڼ ځانګړي ــــــدي، هر څوک پرې نه پوهېږي.

په چوکاټ کې ځيني مذکر او مونث نومونه واغلي دي، تاسې يې د لاندېنيو جملو په تشو ځايوکې وليکئ ؟

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لور | زوی | مور | خور | ورور | ماندينه |
| پلار | مېره | چرګ | مېږه | پسه | چرګه |

زرڅانګه د پيرو ــــــده.

زرګی د محمود ــــــ دی.

د بريالي ــــــ کابل ته تللی دی.

د زرمينې ــــــ ناروغه ده.

د سنک ــــــ له پوهنځي فارغه شوې ده.

د ننګيالي ــــــ سوداګري کوي.

د ګلو اکا ــــــ حج ته تللې وه.

احسان د زمري ــــــ دی.

اتل خپل سپين ــــــ خپلې انا ته په مېلمستيا کې حلال کړ.

زمونږ برګه ــــــ په هګېو راغلې ده.

زموږ په هېواد کې د ـــــــ غوښه تر نورو غوښو ګرانه ده.

سپین ګل اکا پرون یوه ـــــــ له بچي سره له کوچیانو رانیوله.

د لاندېښنیو جملو په تشو ځایونو کې ورکړل شوی زماني او مکاني قیدونه پر خپل ځای کې استعمال کړئ؟

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| پروسږ | کال | سږکال | سمدلاسه | شامدام | ژر تر ژره |
| پورته | کښته | ترټولو | د ننه | د باندې | ورمه ورځ بیوازې |

ګلالۍ چې له ښوونځي راشي ـــــــ ډوډۍ خوري.

د احمد اکا ـــــــ خوشحاله ښکاري.

ـــــــ به زموږ ښوونځي ته نوي ودانۍ جوړه شي.

زموږ ټولګی د ښوونځي د ودانۍ ـــــــ کې دی.

د بایسکل ځغلولو په سیالۍ کې د محمود بایسکل تر نورو وړاندې دی.

زرمینه د کور ـــــــ له خپلې مور سره په کارونو کې مرسته کوي.

سپوږمۍ ـــــــ ښوونځي ته نه وه تللې.

هېلۍ په ښوونځي کې له چا سره خبرې نه کوي ـــــــ خپل لوستونه تکراروي.

د لاندېنيو جملو تش ځايونه په چوکاټ کې له راغليو صفاتو څخه ډک کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښکلی | ډېر ساړه | شين کميسې | خونده ور |
| چاغ | لايق | رنګينې | جامې |

د پامير خور ______ نجلۍ ده.

پرون شپه ______ وو.

هغه _____ نجلۍ زرلښته ده.

نجيبه هر ورځ _____ خواږه خوري.

هغه _____ سړی څوک دی؟

بريالی ------ شاګرد دی.

د زرغونې _____ خوښېږي.

لاندېنيو جملو ته مخامخ درې فعلونه لیکل شوي، تاسې د هرې جملې جوړښت ته په پاملرنه د تش ځای د ډکولو له پاره يو ترې انتخاب کړئ؟

زه پرون بازار ته ______ وم . {تللی - راغلي - خوړلی}

سبلی له بازاره کورته _____ وه. {راغلې - تللې - بللې}

محمود نن له جلال آباده _____ دی. {تللی - راغلی - ځی}

زرګی هراته ته ___ . {ولاړ - لاړ}

زما ورور او پلار پروسږ کال کابل ته ____ وو. {تللي - راغلي - خوړلي}

زمرک سبا د احمد مېلمه دی ، د غرمې ډوډۍ به له هغه سره ____ .

{خوري - ساتي - څنبي}

د حميدې لور ناروغه ده ، نن يې روغتون ته _____ .

{بوتله - راوسته - بووړه}

له لاندېنيو ساده جملو د (او ، خو ، چې ، نو ، هم) په زياتولو مرکبې جملې جوړې کړئ

د زمرک اکا پرون کابل ته ولاړ.

يوه مياشت وروسته به بېرته راشي.

که دې درسونه په خپل وخت زده کړل.

له ازموينې به وېره نه لرې.

زمرى پرون سينما ته ولاړ.

زلمى نه ولاړ.

زه چې پرون له سفره راغلم ،

ستړی وم.

پروت وم.

ه لاندې عبارت کې تش ځايونه د (د - په - او) په ادواتو ډک کړئ!

کوچيان ـــــ ژمي ـــ ننګرهار ، لغمان ، کونړ ، دېرو ـــ پنجاب

سيمو ته راځي ـــ ـــ پسرلي ـــ لومړيو، شپو کې بېرته مخ پر

کابل ـــ ايلبندونو خوځېږي.

زموږ ـــ هېواد ـــ نفوسو يوه برخه کوچنيان دي. کوچنيان رمې لري.

ـــــ څاروي روزي.

لاندې د هرې جملې څنګ ته درې کلمې درکړل شوې دي. تاسې ترې

يوه مناسبه کلمه د جملو په تشو ځايونو کې ولیکئ؟

زه له خپلې کورنۍ سره مينه ـــــ. {لرم - لرو - لري}

زما اکا سږ کال حج ته ـــــ . {تللی - راغلی - بيولی}

دا نجلۍ د بريالي خور ـــــ . {ده - دی - دي}

دې پرون خپل زوی بازار ته ـــ و . {استولی - راغلی او خوړلی}

دا سړی زوړ ـــــ . {دی - ده - دي}

ده د خپل کلي ښوونځی ته درسي کتابونه ـــــ .

{وبخښل - وکتل وخوړل}

دوی پرون له کابله ـــــ دي. {راغلي - تللي - شړلبج

هغه پرون خپل زوړ پلار ته ـــ راوړه . {امسا -پنډوس نانځکه}

هغې انګريزي ژبه ـــــ کړې ده {زده - وهلې}

به دی ضمیرونو تش ځایونه ډک کړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| زه | زما | زموږ | ته | هغه | هغې |
| هغوی | دې | دی | ده | دا |

_____ پلار ښوونکی دی.

_____ ولې ښوونځي ته نه ځې.

_____ خپله لوړ واده کړه .

_____ د شپږم ټولګي زده کوونکی یم.

_____ پلار او مور پرون کابل ته لاړل.

_____ ډوډۍ وخوړه.

_____ پرون مزار شریف ته ولاړل .

_____ چېرې خپلې لوڼې زده کړې بشپړې کړې دي.

_____ کله له هراته بېرته کابل ته راغی.

_____ خپل واړه زوی ته شیدې ورکړې.

_____ پرون په ټولګي کې د ښوونکي پوښتنې ته ځواب ورکړې

_____ زموږ د ښوونځی ښوونکی دی.

_____ پرون ښوونځی ته راغلې وه.

_____ نن ډوډۍ نه خوري.

# شپږم ټولګی

## پښتو

### املا

په لاندېنۍ ټوټه کې د ټکو لیک نښو استعمال ته ځیر شئ؟

| . | ، | ؛ | : | – | « | » | ؟ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|

## ښکاري مرغان

زموږ د هېواد په ځینو شمالي او شمال لوېدېزو سیمو ، لکه : کندز او بادغیس کې ښکاري مرغان ډېر پیدا کېږي.

د دغو مرغانو سوداګر د پسرلي او دوبي په موسمونو کې د مني تر لومړیو ورځو پورې د کندز او بادغیس په دښتو کې په دغو مرغانو پسې ګرځي او په بېلابېلو لارو یې د نیولو هڅه کوي.

پرګي له یوه سوداګره پوښتنه وکړه ، چې تاسو هر کال څو مرغان نیسئ؟

سوداګره وویل :

«موږ هر کال له شلو تر سلو پورې مرغان نیسو ؛ مرغان سملاسي د خرڅلاو له پاره استوو.»

دا سوداګر مرغان بهر ته استوي او په لوړه بیه یې خرڅوي.

پرګي سوداګر ته وویل : موږ ته ښایي، چې د دې مرغانو د نیولو او

خرڅولو مخه ونیسو ، ځکه چې د دغو ښکاري مرغانو نیول او خرڅول زموږ هېواد ته محیطي او اقتصادي زیانونه واړوي.

د لاندېنیو جملو په تشو ځایونو کې د چوکاټ څخه د لیک نخښې په مناسب ډول استعمال کړئ؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| : | ؟ | . | ، | ! |

یو پاچا خپلو درباریانو ته وویل ________

آیا ستا پلار ښوونکی دی ______

ای لویه خدایه ______

ښوونکي وویل ___ سبا به ازموینه وي.

احمد ___ محمود او زرغونې خپل درسونه تکرار کړل ___

په پښتو لیک کې دا لاندې (ی) ګانې معمولې دي ، لکه :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ی | ي | ې | ۍ | ئ |

د لاندېنیو جملو څنګ ته بېلابېلې داسې کلمې راوړل شوې دي، چې د (ی) ګانو بېلابېل ډولونه ښیي. تاسې د هرې جملې په تشو ځایونو کې مناسبې کلمې انتخاب کړئ :

د خیالي _____ پرون هرات ته لاړه. د خیالي مشر ورور هلته کار کوي.

| | | |
|---|---|---|
| ادې | رائې | راغی |

لالې اکا ډېر ښه _____ دی ، د کلي ماشومان ډېره مینه ورسره لري.

| | | |
|---|---|---|
| سړی | مستې | تبی |

د لښکرګاه د ښار د تېل ایستلو په دستګاه کې خونده‌ور _____ جوړېږي.

| | | |
|---|---|---|
| سړې | شیدې | غوړي |

زموږ د هېواد زیاتره _____ سیمې ډېر ستر کانونه لري.

| | | |
|---|---|---|
| ډوډۍ | ابی | غرنۍ |

پرون زموږ د تاریخ ښوونکي ووېل : تاسې ټول باید هره هفته کورني کارونه وکړئ.

| | | |
|---|---|---|
| وری | خوري | کړئ |

# شپږم ټولګي

# پښتو

## انشاء

## زموږ د هېواد لوېې لارې

د افغانستان لوېې لارې د هېواد مرکز له ولايتونو او هم له خپلو ګاونډيو سيمو او هيوادونو سره نښلوي. دا لارې نه يوازې د مرکز او ولايتونو په پيوستون کې ارزښتمنې دی ؛ بلکه له خارجی هيوادونو سره زموږ تجارت هم له همدې لارو کېږي.

زموږ د هېواد لوېې لارې دا دي:

کابل - جلال آباد - تورخم.

جلال آباد- اسعد آباد (کنړ)

جلال آباد - مهتر لام (لغمان)

کابل - غزني - کندهار - سپين بولدک

کندهار - لشکرګاه (هلمند)

کندهار - ګرشک - فراه رود - شين ډنډ - هرات

هرات - تورغونډۍ

هرات - اسلام قلعه

هرات - قلعه نو (بادغيس)

هرات - چغچران (غور)

هرات - فراه - نيمروز

کابل - گردیز - خوست

کابل - چاریکار - پلخمری

چاریکار - بامیان

پلخمري - کندز - تالقان - فیض آباد (بدخشان)

کندز - شېرخان بندر

پلخمري - سمنگان - مزار شریف

مزار شریف - حیرتان

مزار شریف - شبرغان - اندخوی - میمنه - بادغیس

په دې لارو کې د کندهار - سپین بولدک لاره زموږ هیواد له چمن او کویټې سره، د جلال آباد - تورخم لاره یې له پېښور سره، د کندز- شیرخان بندر یې له تاجکستان سره، د مزار شریف حیرتان لاره یې ازبکستان سره، اندخوی - اقینه او هرات - تورغونډۍ یې له ترکمنستان سره، هرات - اسلام قلعه یې له ایران سره نښلوي او د افغانستان ټول خارجي تجارت له همدې لارو کیږي.

تر (۱۳٤۰) ش هـ کال د مخه زموږ د هیواد لویې لارې ټولې خامې وې.

له ۱۳٤۰ - ۱۳۵۷ ش هـ پورې دا لویې لارې زیاتره پخې شوې او د نورو د پخیدو لپاره کار روان و.

په وروستیو دوو لسیزو کې دا لارې ټولې خرابې شوې دي او موږ ته پکار دي چې خپلې دغه لویې لارې بیرته جوړې کړو.

تمـــرین:

کندهار – سپین بولدک لویه لار زموږ هیواد له کومې سیمې سره نښلوي؟

(چمن، ترکمنستان، اندخوی)

د هرات – تور غونډۍ لاره تر کوم هیواد پورې رسیږي.

(ایران، ترکمنستان،

تاجکستان)

د اقینې بندر زموږ هیواد له کومې ولسوالۍ سره نښلوی؟

(اندخوی، دولت آباد، آقچه)

# له ماینونو ځان وساتئ!

په وروستیو دوو لسیزو (۱۳۵۷ - ۱۳۷۸) ش کې زمونږ د هیواد په گوټ گوټ کې ماینونه اینبوول شوي دي.

لویې، ورې لارې، دښتې، د غرو لمنې، کروندې، ورانې کلاوې، پوځې ځایونه او نور د ماینونو د شته والي له خطره ډک دي.

ماینونه غټ، واړه، حتی د ماشومانو د لوبو د شیانو په اندازه دي.

که څه هم له څو کالو راهیسې د ماین پاکولو موسسې د ماینونو پر راایستلو او پاکولو لگیا دي، خو سره له دې هم ځای ځای ماینونه شته.

هره ورځ زمونږ د هیواد په گوټ گوټ کې په لسگونو انسانان او څاروي په ماینونو الوزي. زیاتره مري، یو نیم یې چې ژوندی پاتې شي، نو هغه هم معیوب شي.

ټولو کلیوالو او په زیاته ماشومانو ته یکار دي، چې پر لارو چېرې د لوبو شیان وگوري، جگ یې نه کړي، ځکه کېدای شي چې ماین وي او د لاس په ور وړو سره وچوي. په ورانو کلاوو، په شړو پوځي ځایو کې ونه گرځي، که چیرې په دښته، لاره، ورانو کورونو کې له لرې ماین او یا د لوبو شیان ویني، لاس دې نه وروړي او د ماین پاکولو کارکوونکي دې پرې خبر کاندي.

د لاندېنیو لغاتو معناوې په چوکاټونو کې نخښه کړئ.

کرونده: -------

پوځ: -------

ښار: -------

د کرنې ځمکه، دښته، شاړه

وسله والې قواوې، لښکر، قوماندانی

وران، خراب، آباد

# د څښاک اوبه

ننبتر چې پرون له ښوونځي راغی، ډوډۍ يې وخوړه، دمه يې وکړه. بيايې مور ته وويل، چې څاروي د څرولو له پاره پورې ډاګ ته بيايم.

ننبتر چې خپل څاروي له انګړه وايستل، نو تورياليي لا د مخه خپل څاروي ايستلي وو. دواړه پورې ډاګ ته روان شول.

بېرته چې راوګرځېدل، دواړه ډېر تږي شوي وو. چې د اوبو لښتي ته ورسيدل، توريالي منډه کړه او د لښتي پر غاړه اوږد وغزيده او له لښتي يې اوبه وڅښلې بيا يې ننبتر ته وکتل چې هغه هسې ولاړ دی او اوبه يې ونه څښلې . نو يې په اريانتيا له ننبتره وپوښتل: تا ولې اوبه ونه څښلې، تا خو ويل زه ډېر تږي يم؟

ننبتر ځواب ورکړ: زه دا اوبه نه څښم!

توريالي: ولې؟

ننبتر: ځکه چې دا اوبه پاکې نه دي او څښل يې سړی په ډيرو ناروغيو اخته کوي.

توريالی: نه دي ناپاکې، ښې رڼې او روانې اوبه دي؟

ننبتر: مونږ ته په ښوونځی کې زمونږ ښوونکي ويلي دي چې کله تږي شوئ، د څاګانو اوبه وڅښئ، په تيره د هغو څاګانو چې سر يې پټ وي.

روانې اوبه که رڼې هم وي، څښل يې ښه نه دي او انسان ته ډول ډول ناروغۍ پيدا کوي.

د لښتیو په اوبو کې څاروي، سپي او نور حیوانات هم اوبه څښي، څاروي پکې تیریږي، راتیریږي. نو ځکه د دې اوبو څښل ښه نه دي او ناروغۍ ترې پیدا کیږي.

توریالي: نښتره! دا دې څه خبره وکړه؟ مور خو تولـه ورځ همدا اوبه څښو، چیرې مړه شوو؟

نښتر: دا خبره سمه ده، چې سمدلاسه به سړي مړ نه شي خو زموږ ښوونکي ویل چې د لښتیو، ډنډونو او نورو ولاړو اوبو له څښلو مکروب د سړي بدن ته ننوزي. دا مکروب ورو ورو خپل کار کوي او سړی په ناروغیو اخته کوي.

## تمـــرین:

د لاندېنیو پوښتنو ځوابونه په نخښه کړئ؟

نښتر ولې د لښتي اوبه ونه څښلې؟

(رنې وې، روانې وې، ناپاکې وې)

ښوونکي نښتر ته څه ویلي وو؟

(د څا اوبه وڅښئ، د ډنډوکیو اوبه وڅښئ، د لښتیو اوبه وڅښئ)

توریالي ولې د لښتي اوبه وڅښلې؟

(تږی و، نه پوهېده چې ښې نه دي، هر چا څښلې)

د لښتیو په اوبو کې څاروي، سپي او نور حیوانات هم اوبه څښي، څاروي پکې تیریږي، راتیریږي. نو ځکه د دې اوبو څښل ښه نه دي او ناروغی ترې پیدا کیږي.

توریالي: نښتره! دا دې څه خبره وکړه؟ موږ خو تېوله ورځ همدا اوبه چښو، چیرې مړه شوو؟

نښتر: دا خبره سمه ده، چې سمدلاسه به سړي مړ نه شي خو زموږ ښوونکي ویل چې د لښتیو، ډنډونو او نورو ولاړو اوبو له چښلو مکروب د سړي بدن ته ننوزي. دا مکروب ورو ورو خپل کار کوي او سړی په ناروغیو اخته کوي.

## تمــرین:

د لاندېنیو پوښتنو ځوابونه په نخښه کړئ؟

نښتر ولی د لښتي اوبه ونه څښلې؟

(ږنې وې، روانې وې، ناپاکې وې)

ښوونکي نښتر ته څه ویلي وو؟

(د څا اوبه وڅښئ، د ډنډوکیو اوبه وڅښئ، د لښتیو اوبه وڅښئ)

توریالي ولې د لښتي اوبه وڅښلې؟

(تږی و، نه پوهېده چې ښې نه دي، هر چا څښلې)

# ته لړم نه یې!

زه ښځه یم ته نارینه .... لیکن خبر نه یې؟ چې ته څنګه نارینه شوې؟ که ته فکر وکړې، نو یوه زمانه وه، داسې زمانه چې ته هېڅ نه وې .... هو! .... ته هېڅ نه وې. ببخي په نشت حساب، ما تا ته د خپل زړه غوښې او د ځیګر وینه درکړه، لوی انسان مې کړې، نارینه مې درنه جوړ کړ، خو نن چې ته نارینه شوې، ستا په متو کې زور پیدا شو. نو ته له ما نه زما حق شوکوې، زما مرۍ خپه کوې او ما خورې، ولې؟ په همدې چې زه ښځه یم؟ کمزورې یم؟ د خپلو متو زور مې د زړه د غوښو او د ځیګر د وینې په شکل ستا متو ته درکړی؟ آیا دا نرتوب دی؟.... دا انصاف دی؟.... دا انسانیت دی؟....

نه دا نه نرتوب ، نه انصاف، او نه انسانیت دی، دا د لړم فطرت دی، لیکن ته لړم نه یې او زه ستا مور یم، نو د دې له پاره د خپل انسانیت ثبوت ورکړه او خپله مور مه خوره!

## تمــرین:

د لاندینیو لغاتو معناوې د لینديو (   ) له معناوو ولیکئ؟

نشت ----- (هیڅ، نه موجودیت، نه لرل)

مټ ----- (بازو، مړوند، لېچې)

فطرت ----- (طبعیت، خاصیت، خوی او عادت)

انسانیت ----- (سړیتوب، ښه کار، ښه خوی)

# کوچنیـان

ارواښاد گل پاچا الفت په غوره نثرونو کې وايي: "... زه په ماشومانو کې ځينې داسې لوی خويونه او ستر صفتونه وينم، چې هغه په لويانو کې نشته. هغه کسان چې لويې لرې او ځانونه ورته لوی او زورور معلومیږي د خپلې کينې او بعض په مقابل کې ډير کمزوري دي.

که زه او ته هر څومره لوی شو او قوت ومومو، په خپلو غليمانو رحم نشو کولای.

په زورورو باندې قهر او غضب ډير زوره ور وي، مگر ماشومان دغه راز نه دي. د دوی په زړونو کې که کله عناد او کينه پيدا شي، ډير ژر يې محوه کولی شي او يوه شيبه وروسته له هغه چا سره مينه کوي، چې يو ساعت مخکې يې ورسره منگولې لگولې.

دا کار لويان نشي کولای، لوی خلک د خپل قهر او غضب په مقابل کې ډير واړه او کمزوري دي.

دا زور او قوت د کوچنيانو په برخه رسيدلې دی، چې د حسد او عناد اور مړ کړي او دا جهنم په گلزار بدل کړي."

په متن کې راغليو لغتونو ته څو معناوې ورکړ شوې دي، تاسې يې سمه معنی پيدا او کرښه ترې تاو کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| غليم: | رقيب | دښمن | ملګری |
| منګول: | پنجه | موټی | خپړ |
| جهنم: | دوزخ | | |
| عناد: | دښمن | دوست | ضديت |

د لوړې ټوټې اصلي مقصد له لاندې جملې په نخښه کړئ:

--- ماشومان کينه نه لري له چا سره دښمنی نه کوي.

--- ماشومان تر لويانو زړه سواند وي.

--- لويان دنيا ځانته جهنم کړي او کوچنيان يې ګلزار.

# ثلوریزه

د سهر چرگه، خوږ شي په کومي
چي تا ناري کړي دلبر مي درومي
یو مي دلبر ځي، بل رانه زړه وړي
زړه مي په دا وړي چي دلبر نومي

دا ثلوریزه د احمد شاه بابا د دوران (۱۱۶۰ -۱۱۸۶ هـ ش) شاعر آخوند ګدا ویلي ده او د آخوند ګدا په نافع المسلمین کي راغلي ده. ثلوریزه د ښکلاوو له پلوه د پښتو له ښکلیو ثلوریزو څخه شمیرل کیږي. شعري انځورونه یې ډیر ښکلي او د افغانانو د کلیوالي ژوند او کلیوالي میني یو ښنګ انځوروي.

## تمــرین:

د لاندېنیو لغاتونو معناوي د هر لغت په مقابل کي له ورکړل شویو معناوو غوره کړئ.

کومي: ------ (تالو، حلق، کام)

دلبر: ------ (زړه وړونکی، معشوقه، ګرانه)

د آخوند ګدا کتاب څه نومیږي -----(جنت الفردوس، نافع المسلمین، فوایدالشریعت)

څلوريزه څو بيته او څو مسرۍ لري؟ -----

(درې بيته، پنځه مسرۍ، دوه بېته، څلور مسرۍ ،يو بېت دوه مسرۍ)

د چرګ ناره د څه زيرى کوي؟ -----

(د شپې، د سبا، د مازيګر)

د څلوريزې په دريمه مسرۍ کې راغلې دلبر کلمه څه معنا لري؟

(ملګرې، معشوقه، ښايسته)

په وروستۍ مسره کې د دلبر مفهوم څه دى؟ ----

(زړه وړونکى، زړه بايلونکى، آشنا)

# د پښتو لومړني معلوم شاعر

امیر کروړ سوري د پښتو تر ټولو پخوانی شاعر دی او د ده راپاتی ویاړ نه د پښتو تر اوسه معلوم پخوانی شعر.

د امیر کروړ تر ویاړنې د مخه بل پښتو شعر موږ ته نه دی ښکاره.

امیر کروړ د امیر پولاد زوی و. تر پلاره وروسته په (۱۳۹ هـ ق) کال په غور کې پاچا شو.

امیر ډیر غښتلی او میړنی سړی و. د میړانې او تورې تر څنګه یې پر خپلو خلکو لور او پرزوینه هم درلوده.

امیر کروړ په (۱۵٤ هـ ق)کال په غور کې وفات شو او پاچاهي یې زوی امیر ناصر ته ورسېده.

د امیر کروړ یوه ویاړنه موږ ته پاتي ده. چې خپله پهلوانې، میړانه، توره او له خپلو خلکو سره مینه یې پکې ښوولې ده.

دا ویاړ نه ډیره اوږده ده، خو سر یې دادی:

زه یم زمری پردې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سنده و په تخار او په زابل نسته
بل په کابل نسته
له ما اتل نسته

د لاندینیو لغتونو معنی د هر لغت مخې ته له راغلیو له لېندېو غوره کړئ؟

ویاړنه ------ (ستاینه، غندنه، فخریه)

لور ------ (پیرزوینه، مینه، کینه)

اتل ------ (نابغه، جنگیالی، قهرمان)

نړۍ ------ (دنیا، هیواد، کلی)

غښتلی ------ (پیاوړی، نامتو، ښاغلی)

# يوازيتوب

ماشومان، ځوانان او سپين ږيري د پسرلي ميلې ته روان وو.

زه هم ور سره ولاړم او په ډيرو ګڼو خلکو کې ننوتم.

هلته د ښکلې ايښودو ځای نه و او بې حسابه مخلوق راغونډ و.

نه پوهيږم چا له ما نه پوښتنه وکړه چې ته يوازې يې که څوک در سره شته؟

ما وويل: زه يوازې يم.

همدغه وخت زه د يوازې په معنی پوه شوم او دا راته معلومه شوه چې په ډيرو ګڼو خلکو کې هم سړی ځان ته يوازې ويلای شي.

**پوښتنې:**

د پورتنۍ ټوټې اصلي مقصد :

ميلې ته تلل؟

يوازيتوب او ګڼه ګوڼه؟

که په يوه ټولنه کې د چا په فکر او مزاج برابر کسان نه وي ځان ورته يوازې معلوميږي؟

# کوراغ او منگی

یوه ورځ یو کوراغ ډیر تږی شوی و، شا و خوا والوت خو اوبه یې پیدا نه کړې.

تنده یې دومره زیاته شوه، چې نږدې و، مړ شي.

په دې کې یې لرې په یوه ځاي کې منګی ولید او په بیړه ورغی، پر منګی کښیناست، ګوري چې اوبه شته خو د منګی په تل کې دي او مښوکه یې نشي وررسیدای.

کوراغ نهیلی شو او د منګي د خولې پر مورګه ناست دی، فکر کوي.

د منګی تر څنګ یې وړې ګټکۍ ولیدې. ورټوپ یې کړ او ګټکۍ یې یوه یوه په مښوکه نیوله او منګي ته یې ور اچوله.

کوراغ دومره ګټکۍ منګي ته ور ګوزارې کړې، چې د منګی د تل اوبه ورسره دومره راوختې چې مښوکه یې وروررسیدای شوه. کوراغ اوبه وڅښلې او له مرګه یې ځان وژغوره.

لاندینیو لغاتو ته غوره معناوې له لېندېو خوښې کړئ:

| | | |
|---|---|---|
| کوراغ: | ----- | (کارغه، تپوس، باښه) |
| مورګه: | ----- | (څوکه، غاړه، خوله) |
| منګی: | ----- | (ګړی، کوزهړی، بتنۍ) |
| تل: | ----- | (بیخ، منځ، لاندې) |
| ګټکۍ: | ----- | (شګه، ډبره، واړه کاڼي) |

له پورته کیسې مو څه زده کړل؟

--- په سخته کې باید سړی وارخطا نه شی؟

--- اوبه د ژوندانه یو ضروری شی دی؟

--- چې زیار باسې مقصد ته به رسې؟

# زمری د سیندونو کبان

د افغانستان زیاتره سیندونه کبان لري. دا کبان زمري د خلکو د خوړو یوه برخه ده.

زمري په هیواد کې له پخوا نه کلیوالو خلکو او کسبگرو کب نیوونکیو له سیندونو او لویو ویالو کبان نیول او اوس هم دا کار کوي.

پخوا کبان په جالونو، جکیو او چنگکونو نیول کیدل. اوس یې هم په دغو وسیلو نیسي، خو درې څلور لسیزی د مخه د کبانو د نیولو لپاره سیندونو کې د بم غورځول هم رواج شول.

دکبانو شوقي ښکاریانو به دا کار کاوه او اوس هم ځینې کسان په همدې توگه د کبانو ښکار کوي. له څو وروستیو کلونو راهیسې موږ وینو، چې د کبانو شوقي ښکاریانو یوه لاره پیدا کړې ده او د بریښنا د مزیو په جنگولو د سیند د اوبو یوه برخه برقی کوي چی کبان یې مړه شي، نو بیا یې ونیسي.

د کب نیولو په پخوانیو کلیوالی لارو کې په جال او چنگک کې معمولاً غټ کبان نیول کیږي.

په جکیو کې چې واړه کبان ونښلی، نو کب نیوونکی یې بېرته اوبو ته ور خوشې کوي او په دې توگه واړو کبانو ته زیان نه رسیږي. خو په بم اچولو او برقي شارټونو له لیاری له غټو کبانو زیات واړه له منځه ځي.

له همدی امله زمري د هیواد په ځینو سیندونو کې کبان لږ شوي دي او دا وېره ده ، چې نسلونه یې له منځه ولاړ شي. بم اچونه نه یوازې

کوچني کبان له منځه وړي، بلکې د اوبو په زهري کولو کې هم بدې اغېزې لري.

**پوښتنې:**

زموږ په هېواد کې د کب نیولو پخوانۍ لارې کومې دي؟

(بم غورځول، جال، د برېښنا شارټېونه)

د کب نیولو کومې لارې کوچنې کبان له منځه وړي.

(پخوانۍ، وروستنۍ، اوسنۍ)

# ښه حاکم

هغه چې نه نفس لري، نه نفسي خواهشات.

نه یې په زړه کې ډار شته، نه طمع.

نه له موقوفۍ ویرېږي، نه د ترفیع پروا لري.

نه رشوت اخلي نه تنخوا.

نه له چا سره عنا د لري، نه د چا مراعات کوي.

نه د چا مخ ګوري، نه د چا شتې.

نه زورور پېژني، نه غریب.

نه یې څوک خپل دي، او نه پردي.

نه سفارش مني او نه تملق اوري.

نه چا ته خاندي، نه چا ته وچولی تریو وي

پوهېږئ دا حاکم څوک دی؟

هو! قانون او عدالت.

د پورتني متن اصلی مقصد:

--- د زورورر په مقابل کې چوپتیا

--- چا ته طمع کول

--- قانون او عدالت

په پورتني متن کې راغلیو لغتونه څو معناوې ورکړ شوې دي. سمه معنی یې له لیندیو انتخاب کړئ.

| | |
|---|---|
| طمع | (غوښتنه، لاس غځونه، قناعت) |
| عناد | (قهر، قصد او کینه، مراعات) |
| تملق | (چاپلوسی، سفارش، وېره) |
| وچولی | (تنده، سر، نفس) |
| تریو | (خپه، قهر، تروش) |
| عدالت | (برابری، انصاف، باطل) |

# د افغانستان تر ټولو پخوانی جومات

افغانستان یو اسلامی هېواد دی. د افغانستان زیاترو سیمو ته په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې د اسلام د مبارک دین پلوشې رسیدلې وې.

زموږ د هیواد په گوټ گوټ کې د مسلمانانو د عبادت لپاره لومړیو اسلامي پېړیو کې ډېر ښکلي جوماتونه جوړ شوي وو، چې ځینې یې اوس هم شته. د هرات جامع جومات له همدغو جوماتونو څخه یو دی، چې زموږ خلک پکې عبادت کوي. خو هغه تر ټولو پخوانی جومات، چې یې نخښې شته او زموږ د اسلامي او افغاني فرهنگ زړه نمونه ده، مسجد «نه گنبد» نومېږي.

دا جومات د بلخ د ښار د جنوب په درې کیلو مترۍ کې پروت دی.

د سیمې خلک یې د «مسجد حاجی پیاده» په نامه هم پیژني.

دې جومات ۹ گنبدې یا گومبتې درلودې، نو ځکه ورته «مسجد نه گنبد» وایي. دا جومات په دریمه هجري پېړۍ کې جوړ شوی دی او په افغانستان کې څرگند لرغونی پاتې جومات، همدا (مسجد نه گنبد) دی.

## تمرین:

په افغانستان کې څرگند لرغوني جومات په کوم ولایت کې دي؟

(هرات، بلخ، جوزجان)

د مسجد نه گنبد بل نوم کوم دی؟

(مسجد نه سپهر، مسجد حاجی پیاده، مسجد بلخ)

د افغانستان ځینو برخو ته اسلام لومړی ځل کله راغی؟

(دویمه پېړۍ، لومړۍ پېړۍ، دریمه پېړۍ)

# متلـونه

متلونه د خلکو د پېړيو له تجربو رازېږېدلې دي. متلونه په خبرو کې په ځانګړيو ځايونو کې استعمالېږي او ويونکي يې د خپلې خبرې د پياوړتيا له پاره وايي. په هر متل کې يو غټ مفهوم پروت وي.

متلونه هم د لنډيو او نورو ولسي سندورو او ټوکو په څېر د کوم ځانګړي شخص نه، بلکه د ټول ولس مال دی.

زياتره متلونه د مفاهيمو له پلوه د نورو ژبو له متلونو سره يو شی دي. معنا دا چې متلونه له يوې ژبې، بلې ، يا يوې ټولنې، بلې ته هم ورتلونکي.

په پښتو کې منظوم متلونه هم شته، خو زياتره يې د آهنګينو جملو په بڼه وي، لکه:

په يوه ګل نه پسرلی کېږي

له يوه لاسه ټک نه خېژي

ژرنده که د پلار ده، هم په وار ده

مه کوه په چا، چې وبه شي په تا

څه چې کرې هغه به رېبې

نر زوی په زانګو کې معلوم وي

په زور کلي نه کېږي

د ښې غوښې ښه ښوروا وي.

## تمرین:

له "یوه لاسه ټک نه خیژي" متل څه مفهوم لري؟

(دوستي یو طرفه نه وي، له هر چا سره خپلوی نه کیږی، خپلوی ښه کار دی)

متلونه یو شخص لیکلی دي او که د خلکو له مشترکو تجربو رازیږیدلي؟

مشترکو تجربو

د یو شخص

ډیر اشخاصو

متلونه د څه له پاره په خبرو کې راوړي؟

د خپلی خبرې د پیاوړتیا لپاره

د بل د ملامتولو لپاره

د ځان د ښودلو لپاره

# لنډۍ

د پښتو په ولسي شعر کې تر ټولو مشهور او پر خلکو ګران شعري ډول لنډۍ دي چې په ځينو سيمو کې، ټپې او مسرۍ، په نومونو هم يادېږي نر او ښځې دواړه يې جوړوونکي دي، خو ځانګړی شاعر يې نه دی معلوم او که يې شاعر معلوم شي، نو بيا خپله اولسي بڼه له لاسه ورکوي. په لنډيو کې د کليوالو خلکو د ژوند ځيره انځور شوې، د دوی مينې او غمونه پکې بيان شوي دي.

لنډۍ دوی مسرۍ لري، يوه يې لنډه چې (۹) سېلابه او بله يې اوږده چې (۱۳) سېلابه لري لکه دا لاندې نمونې:

سپوږميه سر وهه راخېژه

يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

ځان يې زړو جامو کې جوړ کړ

لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وينه

جانانه وار دې خطا نه کړې

د ګلو څانګه دې په سر ولاړه يمه

تن مې د شنې نکريزې پاڼه

ظاهر تازه د تنه رنګ په وينو يمه

خاونده سل ځله ژوند راکړې

چې د وطن په مينه سل ځله مړ شمه

زما به ته يادېږې ياره

که د جنت په منارو ولاړه يمه

**تمرين:**

د لنډۍ لنډه مسرۍ څو سپلابه ده؟

(۱۳، ۹، ۱۰

که د لنډۍ شاعر معلوم وي، نو څه عيب لرى؟

(خپل ولسي ارزښت له لاسه ورکوي، ارزښت يې زياتېږي، د خلکو خوښېږي)

د لنډۍ جوړوونکي څوک دي؟

(نر او ښځې، ښځې، نر)

# د غزنی ستر سلطان

زموږ د هېواد په تاریخ کې سلطان محمود غزنوی د غزنی د ستر سلطان په نامه مشهور دی.

دی د خپل پلار سبکتگین تر مړینې وروسته په غزنی کې پاچا شو.

سلطان محمود غزنوی په خپله لویه امپراتوري جوړه کړه، سیمه ییز قوتونه یې ختم کړل او په امپراتورۍ کې شاملې تولې سیمې یې له غزنی سره ونښلولې سلطان محمود کارنامې د اسلام د مبارک دین په خپرولو کې هم د هیرولو نه دی. سلطان یو ادب پال پاچا و. ده د دري ژبې د شاعرانو په روزنه کې ستره برخه درلوده. د درې ژبې ،د څلورمې او پنځمې پیړۍ نومیالیو شاعرانو د غزنې له دربار سره تړاو درلود. دا شاعران د پاچا د دربار له خوا نازیدل او پالنه یې کیده. د غزنی ستر سلطان په (٤٢١ هـ ق) کال کې وفات شو او په غزنی کې خاورو ته وسپارل شو. د سلطان روضه په غزنی کې ده او خلک یې زیارت ته ورځي.

## تمرین:

سلطان له کوم پاچا وروسته پاچا شو؟ (الپتگین. سبکتگین، مسعود)

د غزنویانو امپراتوری د چا په دوران کې ډیره ستره وه؟

(سبکتگین، سلطان محمود، سلطان ابراهیم)

د غزنی له سلطانانو څخه چا د دری ژبو شاعران ویالل؟

(سلطان محمود، سلطان مسعود، سلطان بهرام)

# د غور د جام مينار

افغانستان  په گوټ گوټ کې تاريخي ودانۍ لري. چې ځينې يې خرابې شوي او ځينې يې لا پاته دي او زموږ د هيواد د لرغونو فرهنگي او ځانگړو ارزښتونو ښکارندوې دي. زموږ د هيواد له سترو تاريخي آثارو څخه يو هم د غور د جام څلى دى. چې د سلطان غياث الدين غوري په دوران کې جوړ شوې دي. دا مينار د غور د ولايت د مرکزي غرونو په يوه لرې پرته دره کې د هريرود په غاړه ولاړ دى. دا څلى ٦٦ متره لوړوالى لرى او درى پوړيز جوړ شوې دي. دا څلى ډيرى ښکلى نقاشۍ څرگندې گلکارۍ او نور ډير هنرى ظرافتونه لري. دا څلى تر ډير وخته پورې تاريخ پوهانو او لرغون پوهانو ته څرگند نه وو. د روانې شمسي هجري پيړۍ د لومړى نيمائې په ليسزو کې وموندل شو. تر دې چې وروسته پرې مورخانو او لرغون پوهانو ډيرې څيړنې وکړې.

**تمـرين:**

گوټ ----- (کنج او کنار، سماحه، برخه)

بنه ----- (خصوصيت، ځانگړنه څيره)

پوړ ----- (طبقه، منزل، خونه)

لرغونپوه ----- (باستانشناس، مورخ، جغرافيا پوه)

څرگند ----- (ښکاره، روښانه، ځلېدونکې)

څېړنه ----- (تحقيق، پلټنه، گرويزنه)

# حمد

د الله دېي قـــدرتـــونـــه      بی حســـابه صفتـــونـــه
زمـــکه، بوټې، کانې، غــرونه      لمر، سپوږمی، آسمان بحرونه
رنگ په رنگ يې انسانان دی      په هوا کې يې مرغان دي
تــودی يــخی هـــوا گانی      رنـگارنـــگه فضـــاگـــانی
کلـــه وريـــځی او بـــاران وی      کلـــه واوره او طـــوفان وی
څه چې گوری په دنيـــا کې      يـــايې گـــوری شـــاوخـوا کې
پيدا کـــړي پـــاک مولا دی      چې مشغول يې په ثنا دي

رب پالونکی د جهان دي
د هر څه روزی رسان دي

## تمـــرين:

د لاندې لغتونو له پاره په چوکاټ کې څو معناوې ورکړل شوې دي. نږدې معنا يې په نخښه کړئ .

کانې:      (تيږه، لوټه، خښته)

بوټې:      (ونه، کښت، نبات)

پالونکی:      (نوازش کوونکی، پرورش کوونکی، روزونکی)

# کارغه او ګیدړ

یوه ورځ یوه کارغه یوه ټوټه غوښه په خوله کې نیولې وه او لوړ د یوې ونې پر یو شاخ ناست و.
ګیدړې له لرې کارغه لیدلی و، راغله او تر ونې لاندې ودریده او له ځان سره یې فکر کاوه چې څنګه به دا غوښه ترې واخلم.
ګیدړه لاړه د هماغه شاخ لاندې ودریده چې کارغه پرې ناست و. کارغه ته یې وویل: څه ښایسته اطلسي رنګ دې دی. داسې ښکلا په ټولو مرغانو کې نشته. خو ارمان دا دې چې سندرې نشي ویلی. که چیرې سندرې دې ویلې شوای، نور دې هر څه پوره دي کارغه چې د ګیدړې خبرې واورېدې، نو یې خوله وازه پرانسته او کاغ کاغ نارې یې کړې. له آواز سره یې غوښه له خولې ولویده، او ګیدړې منډه کړه، غوښه یې واخیسته، او وې خوړه او کارغه ته یې وویل: منت دې دی راباندې اوس بې غمه نارې وهه. په دې پوه شه که څوک تا غوندې بدرنګ ته ښکلې وائي، وریا یې نه وایي.

**تمرین:**

د دې کیسې اصلي هدف څه دی؟

- د خوشامد ګرو په شامد مه غولیږي
- د هر چا خبرو ته غوږ مه ږدئ
- له هر چا سره ښه کوئ

د لاندې لغتونو معناوې له مخامخ لیندیو غوره کړئ.

اطلس ----- (توکر، کتاب، رنګ)

وریا ----- (خوشې بې فایدې، مفت)

# تــوکه

مولوی نورمحمد هوتک کندهاری، د افغانستان د لویو عالمانو څه دی. په پښتو او دری ژبو یې ښه کتابونه لیکې دي. او ښه شعرونه یې ویلی دي. دې په (۱۲۸۰ هـ ق) کال کې یو کتاب لیکې چې تحفته الامیر نومیږي او پښتو گرامر یې په دري ژبه پکې شرحه کړي دي. د دې کتاب په پای کې یې ډیری ښکلی پښتو لطیفې هم راوړی دي چې موږ تری یوه خونده وره توکه را اخلو.

## سوداگر او بډای

یو ورځ یوه سوداگر له یوه بډای شخه پوښتنه وکړه. که دې د کور په ور کې مړ شم، نو به څه راسره کوی.

بډای وویل کفن به درکړم.

سوداگر په ځواب کې ورته وویل: اوس مې نس موړ کړه ، چې مړ شوم. بې کفنه مې ښخ کړه.

**تمرین:**

بډای ـــــ (ثروتمند، فقیر، خوار، سرمایه دار)

ور ـــــ (دروازه، کړکې، ورسې)

تحفته الامیر چا لیکې دی؟ (مولوی نورمحمد، ملا گل محمد، علی گل)

د توکې مطلب څه دی؟

--- خلک د مړو غم کوی په ژوندو پسې نه گرځي.

--- بډایان د چا نه اوری.

--- ښه کار هر چا ته خوند ورکوی.

# بریښنا کوټ

## په افغانستان کې د بریښنا د تولید لومړۍ فابریکه

زموږ هیواد د دنګو غرونو تر څنګه بهاند سیندونه هم لري، چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې بهیږي. زموږ خلک زیاتره د دغو سیندونو له اوبو څخه د مځکو د خړوبولو لپاره کار اخلی او د ځینو سیندونو له اوبو د بریښنا د تولید له پاره هم کار اخیستل شوی دی.

زموږ په هیواد کې اوس هم داسې سیندونه شته، چې د بریښنا د تولید ډیر زیات امکانات لري، لکه د اسمار سیند، د پیچ سیند، د الینګار سیند، د الیشنګ سیند، د مرغاب سیند، د هریرود سیند، د پکتیا او د شمل سیند.

دغه راز د هیواد په مرکزي برخو کې ځینې روان سېندګی چې د هلمند او ځېنو نورو سېندونو مرستالان دي، د بریښنا د تولید لپاره تری کار اخیستل کیدای شی. دا ډول وړتیا د بدخشان او تخار په سیمو کې ځینې نور سیندګې او سیندونه هم لري.

د ننګرهار د شینوارو پکتیا او خوست په ځېنو درو کې که ځېنو وړو سېندګیو ته بندونه واچول شي، نو نه یوازی دا چې زموږ د هغو سیمو خلکو ته به بریښنا برابره کاندې، بلکه د اوبو ذخیره به یې د اوړی او منې په موسمونو کې له بزګرو سره د مځکو په خړوبولو کې هم مرسته وکاندي.

زموږ په هیواد کې د سیندونو له اوبو څخه د بریښنا د تولید له پاره د شلمی پیړۍ په دوهمه لسیزه کې کار اخیستل پیل شوي دي.

په افغانستان کې د بریښنا د تولید لومړی فابریکه په جبل السراج کې د سالنگ پر سیند جوړه شوه. د دې فابریکې د جوړولو کار د انگریزي ماهرینو له خوا په (۱۳۰۰ هـ ش- ۱۹۱۱م) کال پیل شو او په (۱۹۱٤م) کال پای ته ورسیدو. دا فابریکه (۲۸۹۰) کیلو واټه بریښنا تولیدوي. له دې فابریکې وروسته په هیواد کې د بریښنا تولید نوری ورې غټې فابریکی هم جوړی شوې دي.

د لاندېنیو لغتونو سمه معنا د لیندې ( ) څخه انتخاب کړئ.

دنگ: ----- (جک، لوړ، ټیټ)

بهاند: ----- (بهیدونکی، ابشار، ولاړی، اوبه)

خړوبول: ----- (اوبه کول، لمدول، نه اوبول)

زموږ د هیواد د کومو سیندونو د بریښنا د تولید لپاره گټه اخیستل شوي ده؟ (الینگار، اسمار، غوربند، سالنگ)

زموږ په هیواد کې د بریښنا د تولید پخوانۍ فابریکه کومه ده؟

(جبل السراج، چک، ماهیپر)

# د افغانستان میوې

د افغانستان بیلابیلې سیمې د میوه دارو ونو د روزلو وړتیا لري.

د افغانستان د زمکو یوه برخه د میوه لرونکو ونو باغونو او باغچو نیولې ده.

زموږ په هیواد کې له باغی میوو سربیره، له غرونو او ځنګلونو هم ځینې میوې لاس ته راځي. د دغو میوو ونې د لوړو غرونو په ځنګلونو او یا په کوهستانی سیمو کې پیدا کیږي. دا میوې وچې او لمدی دي. د افغانستان د بیلا بیلو سیمو له باغونو دا لاندې میوې لاس ته راځي، لکه:

د انګورو بیلا بیل ډولونه چې ستر باغونه یې په کابل، پروان، غزنی، کندهار، هرات، سنچارک او د لوګر په ځرخ کې پیدا کیږي.

زردالو، شفتالو، سنځلی، منې، ناک، الوبالو، الوبخارا، الوچې، او ګیلاس د هیواد په مختلفو سیمو کې شته. د منو زیاتره باغونه د شمال په ځینو ولایتونو په تیره بیا د بلخ په ولایت کې پیدا کیږي. د لوګر پغمان او کوهدامن منې هم مشهورې دي. د انارو باغونه په کندهار، هرات تشقرغان، تګاب، د ننګرهار په خوګیانو او د لغمان په ګرو‌چ کې شته. د تاشقرغان انځر ډېر مشهور دي. خو د انځرو باغچې د هیواد د ختیزو سیمو په شنو درو او د افغانستان په نورو سیمو کې هم شته.

مالټې، نارنج، سنتری، چکوتری، لوکاټ او کیلې د افغانستان په شرقی ولایتونو، لغمان، کنړ او ننګرهار کې پیدا کیږي.

دا ځکه چې د دې سیمو هوا په اوړی توده او په ژمی معتدله ده. او

دا ډول میوې په داسې اقلیم کې ښه وده کوي. د خوست د هوارو سیمو آب و هوا هم د دې ډول میوو لرونکو ونو روزنې ته برابره ده. په خوست کې هم دغه ډول میوو ونی وده کوي. توت د افغانستان په شرقی او جنوبی سیمو، د کابل شاوخوا، د افغانستان شمالی ځینو ولایتونو او د پروان په ولایت کې پیدا کیږي. د پروان توت ډیر مشهور دي. بادام د افغانستان په غوربند، لوګر، کابل، زابل، کندهار، سمنګان او ځینو نورو ځایونو کې شته.

د افغانستان د غرنیو سیمو او ځنګلونو په میوو کې پسته، غوزان، املوک، ممانې، ګورګوری، مرختی، نانګه، شینی، او جنغوزی شامل دي.

زموږ میوې د هیواد له داخلی لګښتونو څخه زیاتی دي او زیاتره خارج ته استول کیږي.

## تمرین:

د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې چارمغز بیلابیل نومونه لري. تاسې ته په لېندېو کې د میوو نومونه درکړ شوي دي. تاسې پکې د چهارمغز نومونه غوره کړئ. (غوزان، متیک، جنغوزی، خوبانۍ)

انارو زموږ د هېواد په ځېنو سېمو کې بل نوم هم لري، تاسې يې په لیندیو کې په نخښبه کړئ. (انګیری، ممانه، غوره)

زردالو هم بل نوم لری، تاسې بل نوم په نخښبه کړی. (خوبانی، الو، شنی)

انګور ته ځېنې پښتانه بل نوم اخلي دا بل نوم په لیندۍ کې وښیی.

(انګور، انار، شفتالو)

# شپږم ټولګي

# پښتو

## لغتونه

په پښتو کې مشابه لغتونه ډیر دي، موږ یې څو مثالونه دلته راوړو:

| |
|---|
| لور ، غوټه ، زړه ، کونډه ، بوره، توره ، لوړ او نور |

هر پاسنی لغت څو معناوې لري. د هرې لاندینی جملې مفهوم ته په پاملرنه، دا لغتونه په مناسبو تشو ځایونو کې ولیکئ؟

د زمرک انا ________ ده .

احمد پرون له بازاره ________ راوړه .

تور دلې تر اوسه لا د خپل نیکه ________ ساتلې ده.

د محمود پلار د ________ په ناروغی اخته دی.

زرک او توریالي پرون لمبل، زرک توریالی په اوبو کې ________ کړ.

د احمد د انګړ دروازه ________ نه لري.

د چا چې لوته زړه نه کېږي، ________ په لوټه تېره کوي.

د ښځې چې زوي مړ شي، هغې ته ________ وايي.

ښوونکي پر ________ تخته لغتونه ولیکل.

د سلطان پلار مړ دی، موریې ________ ده.

خبره کوه د خدای له پاره، ________ وهه د ورور له پاره.

دهمایون مور ډېره خپه وه، چې یې ورور راغی، د زړه ________ یې ورته پرانیسته.

لاندې څو متضاد لغتونه ليکل شوي دي. له هر لغت سره، د مثال په شان، د هغه ضد وليکئ؟

مثال: اور اوبه

ستاينه غم سپين لږ رڼا ځوان

ښادي اور ورځ زوړ تياره ډير

غندنه شپه تور اوبه لوړ ځوړ

| اور | اوبه |
|---|---|
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |

د هر لغت له پاره له چوکاټ څخه هم معنا کلمه پیدا کړئ او د مثال په شان یې ورسره ولیکئ؟

| | لغت | مترادف | |
| --- | --- | --- | --- |
| مثال: | لوړ | جګ | هڅه |
| | تیږه | ________ | دنیا |
| | هاند | ________ | جګ |
| | نړۍ | ________ | ډبره |
| | غړند | ________ | آرزو |
| | ستر | ________ | لوی |
| | هیله | ________ | مړاوی |

**Supported and coordinated by UNICEF and Save the Children (USA)**

Printed at Intol Printing and Packaging